# په افغانستان کې د بېزبندۍ لپاره مناسب وخت

# د نړېوالو تجربو په رڼا کې

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحليل CSRS | شماره: ۳۶۳**

۲۸ جدی ۱۳۹۹ هـ ش /17 January 2021

ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظريات و پيشنهادات خود را جهت انكشاف مطالب اين نشريه به اين آدرس ها با ما شريک سازيد:

ايميل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

---

# په افغانستان کې د اوربندۍ لپاره مناسب وخت

# د نړیوالو تجربو په رڼا کې



د افغانستان د سولې هیله بخښونکو او پیچلو خبرو ته په کتو سره داسې ښکاري چې د جګړې په سر د دواړو خواوو جوړجاړی به ډېر وخت ونیسي. دا چاره د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ بشپړو خبرو اترو ته اړتیا لري ترڅو یکې مهمې سیاسي معضلې حل او د جګړې وروسته د راتلونکي حکومت په اړه پرېکړه وشي. په تېرو څو میاشتو کې چې د دولت پلاوی او طالبان سره د سولې خبرو ته ناست دي، جګړه، وژنې او ویجاړې ډیرې شوي دي، آن تر دې چې تر پخوا یې زور اخیستی دی. څرنګه چې د سولې بین الافغاني خبرې یو مهم پړاو ته ننوتي، ډیری خلکو سره دا پوښتنه پیدا کیږي چې افغانستان کې به کله اوربند ترسره کیږي؟ څرګنده ده چې د افغانستان عام وګړي چې هره ورځ د جګړې قرباني دي تر هر چا ډېر اوربند ته لیوال دي. که څه هم په اخلاقي او انساني اصولو کې د انسان ژوند خورا مهم دی او باید چې د امکان تر حده وژغورل شي. خو د تاریخي لحاظه د اوربند کولو او جګړې ته د پای ټکي اېښودلو لپاره مناسب وخت کوم دی(که افغانستان په نظر کې ونیسو)؟ اوربند د بین الافغاني مذاکراتو څخه د مخه وشي او که وروسته؟ د افغانستان حکومت، نړیواله ټولنه او طالبان باید تر هر څه د مخه ژر تر ژره اوربند وکړي، ترڅو د خلکو ژوند وژغورل شي؟ او یا دا چې سیاسي جوړجاړي ته چې تر ډېره به د یوې باثباته او تلپاتې سولې او دایمي اوربند ته لار هوار وي،

Center for Strategic and Regional Studies

لومړيتوب ورکړي؟ په دې مقاله کې په نړۍ کې بيلابيلو ترسره شويو اوربندونو کاميابي او ناکامي څېړل شوې، د افغانستان قضيې ته په کتو تر کتنې لاندې نيول شوي دي. او په دې برخه کې په افغانستان کې د اوربند د مناسب وخت ټاکلو لپاره د نړۍ څو کورنۍ جګړې هم څېړل شوي دي چې پکې اوربند د سولې خبرو څخه مخکې، وروسته او يا د خبرو په لړ کې پلي شوی دی.

## په مهمو مسائلو د هوکړې مخکې اوربند کول

په افغانستان کې د سولې تر خبرو وړاندې اوربند کولو لپاره لړ تر لړه درې بحثونه شتون لري. لمړی دا چې د سولې خبرو ته تر کښېناستو د مخه اوربند کول يوه بشردوستانه عمل دی چې په پايله کې يې د ډېری شمير انسانانو، څه د جګړې په دواړو خواوو کې او څه ولسي وګړو ژوند ژغورل کيږي. سربېره پر دې، د سولې خبرو ته تر کښېناستو تر مخه د اوربند کول کولای شي چې د بې وزلو او د جګړې ځپلو سره د مرستو په رسولو او وېش کې خورا مثبت رول ولوبوي.

دويم دا چې د سولې خبرو ته تر کښېناستو د مخه اوربند کول د دواړو خواوو ترمنځ د باور فضاء رامنځته کوي چې د سولې لپاره مهم فکتور بلل کيږي. له بلې خوا په اوسني ډول د جګړې دوام په خلکو کې د نفرت احساسات راپاروي او په دواړو خواوو کې د غچ اخيستلو حس قوي کوي چې په پايله کې يې د اورلمن ددې پر ځای چې راټوله شي لا پسې غوړيږي. د سولې خبرو ته تر کښېناستو دمخه اوربند کول کولای شي چې د دواړو خواوو ترمنځ د بې باورۍ فضاء له منځه يوسي او يو پر بل باور رامنځته کړي چې په دوه اړخيزه توګه جګړې ته د پای ټکي ايښودلو لپاره مهم فکتور ګڼل کيږي.

دريم دا چې د اوربند په پايله کې په آسانۍ سره کېدلی شي چې په يوه ثابت حالت کې خبرې وشي نه دا چې هره ورځ د جګړې ميدان ته به کتلو سره د دواړو لوريو په دريځ کې بدلونونه رامنځته شي او يو بل نه د نويو امتيازياتو تمه وکړي. يو ابتدايي اوربند کولای شي د جګړې ميدان سوړ کړي او په ډېر احتمال سره د بين الافغاني خبرو لړۍ ګړندۍ او لنډه کړي. خو د سولې خبرو د پيل څخه د مخه د اوربند کولو د تاريخ څخه څه زده کولای شو؟ د تاريخ په معاصره دوره کې يوه ځې د شمالي آيرلينډ قضيه دا فرضيه ثابتوي چې د سولې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

خبرو څخه د مخه اوربند کول ښايي د دوه اړخيزه جوړجاړي او د کورنۍ جګړې ته د پای ټکي اېښودلو سبب وګرځي. د شمالي آيرلينډ شخړې درې لسيزې دوام وکړ (۱۹۶۹–۱۹۹۸ م) چې په دغه جريان کې بېلتون غوښتونکو غوښتل چې شمالي آيرلينډ د انګلستان څخه د تاوتريخوالي له لارې بېل کړي او د يوه خپلواک هېواد په توګه يې بنسټ کېږدي. د آيرلينډ خپلواک غوښتونکو ګروپونو تر مينځ د متحد آيرلينډ پوځ او تر شا يې د سن فين حزب تر ټولو ډېر اثر لرونکي وو. د انګلستان حکومت تر هغې د سن فين حزب سره د سولې خبرو ته حاضر نه شو، تر څو د متحد آيرلينډ پوځ اوربند نه وو کړی. د سن فين حزب او د متحد آيرلينډ پوځ بلاخره د ۱۹۹۷ م کال په اګسټ مياشت کې اوربند کولو ته چمتو شول او ډېر ژر د ټول شموله خبرو لومړی پړاو پيل شو چې په پايله کې يې د سولې تړون چې د بيلفاسټ يا د ښې جمعې تړون په نوم يادېږي د سولې د خبرو ټولو ګډونوالو له لوري تائيد شو.

په نورو مواردو کې، ابتدايي اوربندونو ونشو کولای چې د سياسي جوړجاړي په برخه کې د مذاکراتو لپاره يو مناسب محيط برابر کړي او په جګړه کې د ښکېلو اړخونو لپاره د قبلېدو وړ او د شخړو لپاره د حل قطعې پای ته رسېدو د ګړنديتوب سبب شي. د ليبريا لومړنۍ کورنۍ جګړه (۱۹۸۹–۱۹۹۶ م) يو د داسې بېلګو څخه ده کوم ځای چې د مذاکراتو څخه مخکې اوربندونو نه يوازې هوکړې ته په رسېدو کې مرسته ونه کړه، بلکې د شخړو ودرېدو (اوربند) د جنګياليو د بېرته راټولولو او دويم ځلې مسلح کولو لپاره فرصت برابر کړ تر څو بېرته خپلو سختو جګړو ته دوام ورکړي. د ليبريا جګړه په ۱۹۸۹ م کال ډسمبر مياشت کې هغه وخت پيل شوه کله چې د مخالفو ګروپونو پورې تړلو پاځون کوونکو، د ليبريا ملي او وطنپالونکې ډلې (NPFL) د چارلز تيلور په رهبرۍ، د عاج ساحل له ګاونډي هېواد څخه په دوی باندې حمله وکړه. دغه شخړه ډېر ژر د عامو خلکو په وړاندې د ظلمونو په سيلاب بدله شوه.

د لويديځو افريقايي هېوادونو اقتصادي ټولنې (ECOWAS) د ۱۹۹۰ م کال په شخړو کې مداخله وکړه او دې ته يې لومړيتوب ورکړ تر څو د جګړو لوري په دې راضي کړي چې اوربند ته غاړه کېږدي. د دغې اقتصادي ټولنې مداخله د دې سبب شوه چې په کال ۱۹۹۰ م نوامبر مياشت کې اوربند پلي شي. او باور کېده چې د اوربند

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

پلي کېدل به د جګړې د قطعي پای ته رسېدو او د تلپاتې سولې اړوند لومړی مثبت ګام وي. خو د غو شخړو د ۱۹۹۲ م کال په اکتوبر کې په يوې تخريب کوونکې حملې سره (د اکتوپوس عملياتو په نامه) چېرته چې د NPFL جنګياليو په مونرويا باندې حمله وکړه، بيا ادامه پيدا کړه او وروسته له دغه حملې څخه جنګونه په تيت شکل د هېواد په هره برخه کې پيل شول.

د جګړو د بيا پيل کېدو څخه وروسته، دغه څو متعددو جنګي وقفو جنګياليو ته يو ځلې بيا د ددې فرصت ورکړ چې د تلپاتې سولې پر ځای د جګړې لپاره ځانونه اماده کړي او هر يو د دغه اوربندو څخه مات شو. د هېڅ اوربند پايله داسې نه وه لکه څرنګه چې ورڅخه تمه کېده او هېڅ مرسته يې د مذاکراتو لپاره د يو مناسب محيط په رامنځته کولو او يوې ګډې هوکړې ته د رسېدو لپاره ونه کړه.

ليبريا يوازې يو د هغو ډېرو بېلګو څخه ده چېرته چې لومړني ترسره شوي اوربندونه عملي شول خو پايله يې ورنه کړه او ناکام شول. سربېره پر دې دغه اوربندونه د جګړې د لا زياتې ګرمېدو، اوږدو شخړو، د زياتو وژنو او سختو ويجاړيو لامل شول. په نورو هېوادونو لکه دارفور (۲۰۰۴–۲۰۰۳ م)، بوسينيا (۱۹۹۴ م) او سريلانکا (۱۹۹۵ م) کې اوربند د مذاکراتو د پيل، د باور د فضاء د رامنځته کولو او د بشري لاملونو له کبله د لومړني شرط په توګه پېژندل شوی وو. په ټولو دغو مواردو کې، په جګړه کې ښکېلو اړخونو د دغو اوربندونو څخه ناوړه ګټه واخيسته او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره يې د تاوتريخوالي څخه کار واخيست ځکه دوی عقيده درلوده چې نه شي کولای خپلو دغه موخو ته د شخړو په هغه مرحله کې د مذاکراتو په ميز باندې ورسيږي.

مونږ د دغو ټولو مواردو څخه څه زده کولای شو؟ تاريخي شواهد ښيي چې اوربند به د افغانستان په ګټه نه وي. مخکې له دې چې د طالبانو او د افغانستان د جمهوري دولت مذاکره کوونکي ټيمونه يوې اجماع ته په اساسي سياسي موضوعاتو نه وي رسيدلي. د وختي اوربند منتقدين او نيوکه کوونکي ښايي دليل راوړي چې هيڅ تضمين وجود نه لري چې دغه وختي اوربند به د مرګ ژوبلې کچه را ټيټه کړي تر هغه پورې چې عمده سياسي موضوعات د مذاکره کوونکو په واسطه نه وي حل شوي. څرنګه چې دا ډول اوربند به د طالبانو او د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

افغان حکومت تر منځ د سیاسي جوړ جاړي پر بنسټ نه وي، نو ځکه به نازک او ماتیدونکی وي. که چېرته ناکام شي نو د جګړې د لا زیاتې ګرمېدو او مرګ ژوبلې لامل به شي په نسبت د هغه حالت چېرته چې مذاکره کوونکو ته اجازه ورکړل شي تر څو د یوه سیاسي توافق له لارې د شخړو او جګړو لپاره غوڅ حل ته ورسېږي. نو څه کولای شي چې د شمالي ایرلیند د لومړني اوربند بریا څرګنده کړي؟ یو ښه توضیح کېدای شي چې د انګلیس او IRA فوځیانو تر منځ یو بن بست ته رسېدل وي چېرته چې دواړه جنګي قواوې پدې پوه شوې چې په یو سخت حالت کې قرار لري او دا به دوی لپاره بهتره وي که دوی د مذاکراتو پر مټ یو توافق ته سره ورسیږي. د یوه طرفه یاغیان پدی پوه شول چې دوی نشي کولای خپلو موخو ته د نظامي او یا سیاسي لارو ورسیږي او د بل طرفه دولت هم پدې باور وو چې IRA هم یو نه ماتیدونکي خنډ او ستونزه ده چې نه به مات شي او نه به هم دغه جګړه کې بریا ترلاسه کړي، نو ځکه دواړو خواوو یوه متقابل بن بست ته ورسیدې کوم چې د مذاکراتو نه مخکې اوربند لپاره یې شرایط برابر کړل.

یو بل ممکن خطر چې وروسته د داسې یو اوربند څخه کوم چې مخکې د یوه جوړجاړي څخه په سیاسي موضوعاتو باندې منځ ته راځي دا ده چې کېدای شي دغه ډول اوربند به په افغانستان کې جګړه نوره هم سخته کړي، د زیات وخت لپاره به دوام پیدا کړي، هېڅ یو اړخ به ګټونکی یا بایلونکی نه وي او د مذاکراتو د حل او فصل لپاره به هېڅ کوم حقیقي چانس نه وي. قبرس هېواد د دغه شان قضیې یو ښه تاریخي مثال دی. په ۱۹۷۴ م کال کې د ترکیې او قبرس یونان تر منځ اوربند، کوم چې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب رامنځ ته شوی وو جګړه ودروله. سره له دې چې د جګړې ښکېلو خواوو د دغه اوربند احترام وکړ، خو وروسته مذاکراتو کې په جګړه کې ښکېل اړخونه پدې راضي نه شول او ویې نشو کولای چې د اختلافاتو لپاره یوه متقابل حل ته سره ورسیږي. د هغې بر عکس، اوربند بیا هغه حالت وزیږاوه چېرته چې د ګروپونو انګیزې د شخړو د حل او فصل کولو لپاره له منځه ولاړې او همغه پخوانی حالت یې وساته. دغه لیست کې کېدلای شي چې نور هغه موارد هم اضافه شي چېرته چې جګړې سختې او منجمدې شوې وې لکه د آذربایجان او ارمانیا تر منځ د قره باغ موضوع ، ابخازیا، ترانس-دنیستر په مولداوا کې، جنوبي اوستیا په ګرجستان کې او کشمیر د هند او

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

پاکستان ترمنځ، ټول هغه هېوادونه دي کوم چې د قبرس سره ورته سرنوشت سره مخ شول.

## د خبرو اترو په جریان کې ډزبندي

د سولې د خبرو اترو په پای کې د یو ګډ او دوا‌ړه لورو ته د منلو وړ تړون د رامنځته کېدو وروسته اوربند لازمي دی، خو د سولې د خبرو په جریان کې اوربند شونی دی؟ د سولې د خبرو په کوم پړاو کې به اوربند تر ټولو زیات مؤثر او اغېزناک وي؟ له تاریخي پلوه د سولې د مذاکراتو په لړ کې تر ټولو بریالی اوربند هغه وخت رامنځته کېدای شي چې د دواړو ډلو ترمنځ پر هغو مهمو سیاسي اختلافاتو تر یوې کچې هوکړه وشي، کوم چې د جګړې اصلي لاملونه ګڼل کېږي. خو دا پدې معنی نه ده چې افغان دولت او طالبان دې د هر اختلاف په اړه موافقې ته سره ورسېږي، د دواړو لورو لخوا پر یوه عمومي فارمول هوکړه کولای شي دوی وهڅوي تر څو جګړې ته د پای ټکی کېږدي، دا کار باید یوازې له دې امله ونشي چې دغه ډول ډزبندي به اوږدمهاله وي، بلکې په دې خاطر هم اړین دی تر څو یو وروستي تړون ته رسېدل او د لسیزو راهیسې د روانې اوږدې جګړې پای یقیني او حتمي کړي.

په حقیقت کې د دواړه لورو ترمنځ د روانې جګړې او د حل په اړه یې عمومي تفاهم کولای شي له دوی سره مرسته وکړي چې دا خبره درک کړي چې د جګړې پر ځای د خبرو له لارې د ستونزې حل غوره او ګټوره دی! له دې لارې شونې ده چې دواړه لوري په رېښتیني توګه یو ګډې همغږۍ ته د رسېدو لپاره وهڅول شي او د جګړې وسوسې له منځه یوړل شي، همدارنګه د اوربند په لړ کې به افغان دولت او طالبان وکولای شي چې په آرامه فضاء کې د سولې د تړون د تفصیلاتو په اړه غور وکړي، ددې برسېره د دوامداره او منل شویو حل لارو د موندلو لپاره به د افغان دولت، طالبان او د نړیوالې ټولنې ترمنځ د همکارۍ اړیکې ځواکمنې کړي.



تاریخي شواهد دا ښیي چې د ښکېلو ډلو لخوا د مهمو سیاسي ستونزو په اړه له موافقې او هوکړې وروسته

Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

اوربند ډېر اغېزمن وو، نسبت دې ته چې له وخت وړاندې ترسره شي. د بوسنیا جګړه (1996–1992 م) د ملګرو ملتونو په مرسته د بېلا بېلو اوربندونو شاهده وه، خو یادو اوربندونو نه یوازې دا چې د موخې په ترلاسه کولو کې کومه مرسته و نه کړه، بلکې د اوربند موده به د ښکېلو ډلو لخوا د اکمالاتو او د جنګیالیو د روزلو او ګمارلو لپاره کارول کېده، چې په پایله کې به جګړې لا هم زور واخیست، د بوسنیا د جګړې په جریان کې د بوسنیا، کروشیا او یوګوسلاویلا (په ټوله کې بوسنیایي سربیانو نژاد) د بهرنیو چارو وزیرانو د لومړي ځل لپاره په جینوا او بیا ځلې د 1995 م کال د سپتمبر په میاشت کې په نیو یارک کې سره وکتل. دوی د نورو قضیو تر څنګ په بوسنیا کې د سولې لپاره په یوه بنسټیز پرنسیب هوکړه وکړه. هغه دا چې بوسنیا به خپل عادي سرحدونه ساتي، خو د هېواد په دننه کې به یې دوه برخې شتون ولري: د سرب جمهوریت (۴۹٪ سیمه) او د هرزګوین او بوسنیا فدراسیون (۵۱٪ سیمه). یوه اونۍ وروسته د شپېتو ورځو د اوربند تړون لاسلیک شو، چې په تعقیب یې د 1995 م کال د نومبر په لومړۍ نېټه په دیټون اوهایو کې د سولې پراخې خبرې اترې پیل شوې، د جینوا او نیویارک د ناستو په پایله کې رامنځته شوې خبرې د 1995 کال د ډسمبر په 14مه نېټه د سولې پر تړون بدلې شوې.

اوس نو مهمه پوښتنه دا ده چې د بوسنیا د جګړې وروستۍ اوربند ولې بریالی شو؟ چې په پایله کې یې یو تړون رامنځته شو، حال دا چې نور اوربندونه د بریا څوکې ته و نه رسېدل؟ لنډ ځواب به دا وي چې ښکېلو ډلو لومړی په عمومي فارمول باندې هوکړه وکړه، او بیا یې اوربند ترسره کړ، دا عمومي فارمول لومړی ځل په جینوا او نیو یارک کې رامنځته شو، چې وروسته یې د وروستۍ هوکړې ته رسېدو په موخه پایداره اوربند او پراخو خبرو اترو ته لار هواره کړه. تر ټولو مهمه دا چې د دواړه لوریو ترمنځ د مخالفتونو د حل په تړاو یو عمومي تفاهم او همغږي رامنځته شوه او په دې وپوهېدل چې ستونزه د خبرو له لارې حل کېدای شي. همدا لامل وو چې اوربند هم دوامداره او بریالی وو.

د بوسنیا د جګړې په شان د نېجر هېواد د تورګ بغاوت (1995-1990 م) هم د څو اوربندونو شاهد وو خو یوازې یو یې د سولې د تړون لامل شو، د ایر او ازاوک د ازادۍ غوښتنې د مبارزې ډلې (FLAA) په 1991 م

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

کال کې د نجیریایي حکومت په وړاندې پاڅون وکړ او د فدرالي سیستم، غوره کورواکي او د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره یې مبارزه پیل کړه. د جګړې په کلونو کې د سولې خبرې په مسلسل ډول ترسره شوې او له امله یې یو شمېر ناکام اوربندونه ترسره شول چې تر ډېره یې د ناکامۍ علت له اوربند وړاندې په بنسټیزو سیاسي مسائلو د هوکړې نه شتون وو، کوم چې د جګړې اصلي لاملونه ګڼل کېدل. په 1994 م کال کې د نیجریایي حکومت او د تورګ باغیانو په استازیتو د (CRA) ترمنځ د خبرو تازه لړۍ پیل شوه. د پخوانیو خبرو اترو خلاف دا ځل نیجریایي دولت د تورګ سیمو د ځان واکۍ غوښتنه ومنله کومه چې د بېلتون غوښتونکو بنسټیزه غوښتنه وه، او پدې سره موافق شول چې دا سیمه به د ټاکل شویو والیانو او شوراګانو له لوري اداره کېږي، له دې توافق وروسته اوربند رامنځته شو تر څو د پراخو خبرو اترو لپاره لاره هواره شي.

د وړاندېنیو مذاکراتو پر خلاف د وروستیو خبرو اترو په پایله کې دواړه لوري په دې وتوانېدل چې د جګړې د یوې بنسټیزې مسئلې په اړه عمومي تفاهم ته ورسیږي. اوربند د پراخو مذاکراتو تر پایه دوام وکړ، او دواړه ډلې واتوانېدې چې د تورګ په سیمو کې د شوراګانو د ټاکنو، امنیت، د اغېزمنو سیمو بیا وادانولو، او د کډوالو بیا راستنېدلو په اړه توافق ته ورسیږي. په پای کې د 1995 م کال د اپرېل په 24 نېټه د نیجریایي حکومت او د پاڅون کوونکو ترمنځ (چې د CRA او FLAA لخوا یې استازیتوب کېده) د سولې یو تړلییز تړون لاسلیک شو.

د بوسنیا په څېر په نیجر کې هم ټول اوربندونه مخکې له دې چې دواړه خواوې د شخړې بنسټیزو مسلو ته حل لاره پیدا کړي ناکام شول. کله چې ښکېلو خواوو د شخړې د اصلي مسلو د حل لپاره ګډ ټکي وموندل، بیا په جګړه کې لږ ځنډ هم د تفصیلي خبرو اترو لپاره د آرامې فضاء په چمتو کولو،د دوه اړخیز توافق او د جګړې د وروستي حل لپاره اغېزمن ثابت شوی دی.

که څه هم تاریخي شواهد ښیي چې د عموي فارمول یا د جګړې د بنسټیزو مسئلو لپاره حل موندل د اوربند د غځولو سبب کېږي مګر په غوځ ډول نه شو ویلی چې دا دې یوازینی فکتور وي چې د اوربند برخلیک ټاکي، بلکې نور عوامل یوازې یا په ترکیبي شکل د اوربند برخلیک ټاکي. مثلا د اوربند د قوي منځګړي یا ضامن

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

شتون، يا د داسې حالاتو شتون چې په هغه کې يو لوری هم د جګړې ګټونکی او بايلونکی نه وي.

بلاآخره د موزمبيق قضيه داسې سناريو وړاندې کوي چېرته چې اوربند يوازې هغه وخت پلي شو کله چې دواړه ښکېلې خواوې د سولې جامع هوکړې ته ورسېدل. په لومړيو کې د موزمبيق د حکومت ټينګار په دې وو چې اوربند دې په مهمو سياسي مسئلو باندې د خبرو اترو مخکې پلي شي. له بلې خوا پاڅون کوونکو تر هغې پورې د وسلو د اېښودلو څخه انکار وکړ تر څو چې خبرې اترې د سولې ټوليزې هوکړې ته نه وې رسېدلې. په پای کې حکومت د ناوړه بن بست له ويرې د دوی غوښتنې ته غاړه کېښوده چې په پايله کې يې خبرو اترو او جنګ په يو وخت دوام وموند. په حقيقت کې د جګړې دوام د خبرو اترو د بريا لپاره خورا مهم ثابت شو هر څو مره چې د تاوتريخوالي شدت ډېرېده ښکېلو خواوو د مذاکراتو په ميز د نورو امتيازاتو ورکولو ته زړه ښه کاوه. د تاوتريخوالي دوامداره شدت د دې لامل شو چې د جګړې دواړه خواوې ژر تر ژره جوړ جاړي ته چمتو شي او په پای کې يوې وروستۍ هوکړې ته سره ورسېدل.

په کره توګه هيڅوک نه شي ويلای چې په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت به کوم وي؟ مګر دا بايد زمونږ د تاريخي پېښو څخه د زده کړې مخه ونه نيسي. په يوه خبره چې ښايي مونږ ټول پرې همغږي واوسو، هغه دا ده چې د اوربند د وخت معلومول په افغانستان کې د ښکېلو خواوو لپاره اسانه پرېکړه نه ده ځکه لمړی دا چې د سولې خبرو څخه مخکې په اوربند موافقه کول به په لنډه توګه د خلکو ژوند وژغوري او د تاوتريخوالي مخه به ونيسي مګر دا امکان هم شته چې هېواد به بېرته جګړې ته ستون او په پايله کې به لا زياتو تلفاتو او تباهۍ ته زمينه برابره شي. دويم دا چې د اوس لپاره د يو داسې جوړجاړي لپاره د قربانيو منل، کوم چې دا جګړه يو ځل د تل لپاره ختمه کړي. د وخت نه مخکې د اوربند يو بل خطر لکه د قبرس په قضيه کې چې وليدل شو دا دی چې د جګړې ودرېدل بغير له کومې واقعي جوړجاړي به ښکېلې خواوې په داسې وضيعت اخته کړي چې رېښتينې هوکړه به ورته يوه خيالي کيسه معلومه شي.

تاريخ ثابتوي چې د سولې خبرو څخه دمخه اوربند کول بل څه نه بلکې د جګړې دواړو خواوو ته زمينه برابروي چې بېرته خپل جنګيالي د لا شديد جنګ لپاره تقويه کړي. د شمالي ايرلينډ يوازينی کامياب اوربند نه دا

معلومه شوه چې په سیاسي مهمو موضوعاتو د خبرو اترو نه مخکې اوربند هغه وخت کامیابیږي کله چې نور مهم شرایط مساعد وي. له دغه مثال څخه معلومیږي چې د سولې خبرو څخه دمخه اوربند کولو څخه ښه پایله هغه وخت ترلاسه کېدای شي کله چې دواړه خواوې په داسې بن بست کې واقع شي چېرته چې د جګړې اصلي ګټونکی او بایلونکی معلوم نه وي او د خبرو اترو له لارې جوړجاړی د جګړې نه غوره معلوم شي.

ورته نورې قضیې دا جوتوي چې لومړیتوب باید حقیقي او رېښتینی جوړ جاړی وي او د مهمو سیاسي مسلو په اړه د خبرو اترو مخکې سمدستي اوربند کوم لازمي کار نه دی. البته د افغانستان په شخړه کې د ښکېلو خواوو لپاره یو سخته او ستونزمنه پرېکړه ده چې د اوربند څخه مخکې خبرې اترې پیل کړي. په حقیقت کې بنسټیز اخلاقي او اسلامي اصول دا موږ ته په ښکاره توګه څرګندوي چې د هر وګړي ژوند مهم دی او باید له خطر سره مخ نه شي. په هر حال، په لنډ مهاله کې د تلفاتو کچه باید د اوږدې جګړې د ویجاړۍ او ځاني تلفاتو سره پرتله شي. تجربو ښودلې ده چې لنډ مهاله اوربند او په موقت ډول د وژنو او ویجاړیو مخنیوی په حقیقت کې پیل شوې جګړې ته لا شدت ورکوي، اوږدوي یې او د رېښتینې جوړجاړي لاس ته راوړل ځنډوي (لکه د بوسنیا او لاییریا قضیې) له وخت څخه مخکې اوربند جنګیالیو ته مهلت ورکوي چې خپل ځواکونه له سره تنظیم کړي .په مهمو سیاسي مسئلو د یوې اجماع له رامینځته کېدو مخکې له وخت څخه اوربند به ښایي د جګړې د لا زیاتېدو لامل شي او د خبرو اترو د هوارۍ چانس به کم کړي.

له دې امله افغان دولت،طالبان او نړیوالې ټولنې ته مشوره داده چې د بین الافغاني خبرو پر مهال له هغه وروسته چې ټولې خواوې پر مهمو سیاسي مسئلو یوې اجماع ته سره ورسیږي د جګړې مخه ډب کړي. له تاریخي قضیو په زده کړې، داسې برېښي چې په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت هغه دی کله چې مذاکره کوونکي ټیمونه په مهمو سیاسي مسایلو لکه د راتلونکي نظام د څرنګوالي، د واک وېش او نورو په اړه یو جامع اتفاق ته سره ورسیږي. دا به افغان دولت او طالبان ته ډېره اسانه وي چې لمړی خبرو اترو ته یو عمومي حل لاره پیدا کړي بیا جګړه ودروي او بالاخره یوې نهایي موافقې ته ورسیږي. کله چې دواړه خواوې د جګړې او د حل لارې په اړه یې عمومي هوکړې ته ورسېدل نو بیا د نهایي جوړجاړي په اړه د خبرو اترو مسئله

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

آسانه کېږي. دا ډول درک لرل به دواړه خواوې دې ته وهڅوي چی د بین الافغاني خبرو اترو په ترڅ کې وسلې پر ځمکه کېږدي او دا کار به په خپل وار سره وروستۍ هوکړې ته د رسېدلو لپاره مناسب چاپیریال برابر کړي.

## سرچینې:


Archick, K. (2005). Northern Ireland: The Peace Process. Congressional Research Service Report for Congress.

Cook, N. (2003). Liberia: 1989-1997 Civil War, Post War Developments, and U.S. Relations. CRS Report for Congress.

Lloyed, R. (1995). Mozambique: The Terror of War, the Tensions of Peace. Current Histroy, 153.

Luttwak, E. (2004). The Curse of Inconclusive Intervention. In C. A. Crocker, Taming Interactable Conflicts: Medation in the hardest cases. Washington, DC: US Institute of Peace Press.

Mahieu, S. (2007). When Should Mediators Interrupt a Civil War? Th e Best Timing for a Ceasefire. International Negotiation, 207-228. Retrieved December 29, 2020, from https://d1wqtxts1xzle7.cloudfront.net/32138992/Mahieu_INER_12-2_1_.pdf?1382489642=&response-content-disposition=inline%3B+filename%3DWhen_Should_Mediators_Interrupt_a_Civil.pdf&Expires=1610303353&Signature=YfoXk5d3Jo-XdBwcjKIuKC-Kq6m7l~DD0w6XjBjkgMKO5Sj8k

Masabaha, I. (1995). Negotiating an End to Mozambique's Murderous Rebellion. In W. I. Zartman, Elucive Peace: Negotiating an End to Civil Wars. Washington: The Brookings Institution.

Sesay, M. A. (1996). Bringing Peace to Liberia. Accord. Retrieved December 30, 2020, from https://rc-services-assets.s3.eu-west-1.amazonaws.com/s3fs-public/The_Liberian_Peace_Process_Accord_Issue_1.pdf

Skoog, O. (2003). Experiences from the Colombian Peace Process. Internal Armed Conflict, Peace Processes and Peace Negotiations – Is there a way forward in. Upsala. Retrieved January 10, 2021, from https://www.yumpu.com/en/document/read/39809467/experiences-from-the-colombian-peace-process-olof-

The Diplomat. (2021). Latest Phase of Intra-Afghan Peace Talks Off to Slow Start. Retrieved January 12, 2021, from https://thediplomat.com/2021/01/latest-phase-of-intra-afghan-peace-talks-off-to-slow-start/

Touval, S. (1995, October). Ethical Dilemmas in International Negotiations. Negotiation Journal, 333-337.

Zartman, I., & Berman, M. (1982). The Practical Negotiator. New Haven: Yale University Press.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)



CSRS

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیر انتفاعي، غیر حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسیس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو ارزولو او د هغو د پراختیا لپاره فعالیت کوي. د مرکز یوه موخه دا هم ده چې د نویو څېړنو او پالیسیو تر مینځ داسې ارتباط قایم شي چې په پایله کې د هېواد په کچه ټولې پالیسۍ په مطالعې ولاړو اکاډیمیکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com